# د ټاکنو موسم په بهیر کې د خوندیتوب لارښوونې

*په متحده ایالاتو کې د ولسمشرۍ ملي ټاکنې په هرو 4 کلونو کې د نوومبر پر لومړۍ سه شنبه ترسره کېږي. خلک ښايي د دغه وخت په بهير کې د کډوالو او بیا میشتېدنې له ادارو سره ډېره لېوالتیا ولري. لاندې د هغو شرایطو په هکله ځینې لارښوونې او تګلارې دي چې ښايي تاسو په متحده ایالاتو کې ورسره مخ شئ، که پوښتنې لرئ، د بیا میشتېدنې له ادارې سره خبرې وکړئ.*

- که یو څوک وغواړي چې له تاسو سره مرکه وکړي، حق لرئ چې نه ورته ووایاست. که یو څوک وغواړي چې ستاسو ویډیو یا عکس واخلي، حق لرئ چې نه ورته ووایئ. کولی شئ ورته ووایئ چې "زما عکس مه اخلئ" یا "ما یوازې پرېږدئ." دغه راز کولی شئ خپل مخ په خپل لاس سره وپوښئ. منډه مه ترې کوئ او ورسره د جنګ کولو هڅه مه کوئ، بلکه له پامه یې غورځوئ او لیرې ترې لاړ شئ. که نا خوندي احساس کوئ، د مرستې لپاره زنګ ووهئ.

- که څوک تاسو ته په ټلیفون کې د ګواښولو لپاره زنګ ووهي، ځواب مه ورکوئ. د ټلیفون شمېره او هغه څه چې دغه کس وویل، که نارینه و که ښځینه، د بګروند شور او نور هر ډول جزیات ولیکئ. بیا ټلیفوني زنګ پای ته ورسوئ. د خپلې قضیې له مدیر سره د یاد ټلیفون زنګ په اړه خبرې وکړئ او خپل یادداشتونه ورته وښیئ. نوموړی به له تاسو سره د قانون عملي کونکو ته د ټلیفون زنګ راپور په ورکولو کې مرسته وکړي.

- که څوک مو په متني پیغامونو یا ټولنیزو رسنیو له لارې ځوروي، ځواب مه ورکوئ. د متني یا انلاین پیغامونو سوابق وساتئ. د خپلې قضیې له مدیر سره خبرې وکړئ چې څنګه چاروکو ته د یادو پیغامونو راپور ورکړئ.

- له هغه چا سره خپل شخصي معلومات مه شریکوئ چې تاسو یې نه پیژنئ. که څوک تاسو ته په ټلیفون سره زنګ ووهي یا بریښنالیک درته واستوي چې ستاسو د ټولنیز امنیت شمېرې، د زیږون نیټې یا د بانکي حساب شمېرې په څېر معلومات وغواړي، نو مه یې ورکوئ! که یاد کس ووایي چې تاسو به وشړل یعني ډیپورټ شئ یا به زندان ته لاړ شئ، که معلومات رانه کړئ؛ دا یو فریب (چال) دی! که تاسو د څه شي په اړه ډاډمن نه یئ، تر اقدام مخکې د خپلې قضیې له مدیر سره خبرې پرې وکړئ.

- ډاډمنه کړئ چې ټلیفون، بریښنالیک پته او ټول انلاین حسابونه (لکه بانکي حسابونه) مو ښه پاسورډونه لري.

- له خپلو شاوخوا شیانو یعني مالونو څخه ځان خبر وساتئ. د شپې یوازې قدم مه وهئ او هڅه وکړئ چې په جوړه بڼه یا ډلو کې لاړ شئ. که تاسو په خپل شاوخوا کې یو شی یا شکمن کس وګورئ، نو یو چا ته ووایاست. که تاسو له سملاسي خطر سره مخ یئ، 911 ته زنګ ووهئ.

- په یاد ساتئ چې په کور کې بهرنی دروازې او کړکی بند کړئ. خپل کور ته د نا پیژنده کسانو اجازه مه ورکوئ. پر کړکیو پردې واچوئ او د شپې پردې وتړئ. که موټر چلوئ، ډاډمنه کړئ چې د خپل موټر دروازې او کړکی مو بندې کړې دي.

- هڅه وکړئ خپل مهالویشونه او معمولونه بدل کړئ. که غواړئ په خپل ګاونډ کې د قدم وهلو لپاره لاړ شئ، هڅه وکړئ په بېلابېلو وختونو او ورځو کې لاړ شئ.

*د بیا میشتېدنې خوندیتوب او امنیت له انجمن څخه مننه*